**مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی**
**د ستراتيژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز**

# تحلیل هفته

**شماره: ۹۸** (از ٦ الی ۱۳ جدی ۱۳۹۳ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:


- مقدمه ........................................ ۲

**پایان جنگ جهانی کوچک!**

- آیا نیروهای خارجی موفق شدند؟ ........................................ ۴
- جنگ خونین و بی‌حاصل ........................................ ۴
- طالبان باید تصمیم بگیرند ........................................ ۵

**په افغانستان کې د امریکا جګړه (۲۰۰۱-۲۰۱۴)**

- پر افغانستان د امریکا د برید شالید ........................................ ٦
- په نړیوالو قوانینو کې د امریکا د یرغل حیثیت ........................................ ۸
- د افغانستان د جګړې موخې او پایلې ........................................ ۹

## مقدمه

د ستراتېژيکو او سيمه ييزو څېړنو مرکز د اوونۍ تحليل په دې ګڼه کې، په افغانستان کې د امريکا او ناټو د ۱۳ کلنې جګړې د رسمي پای ته رسېدو په تړاو، د مرکز د څېړنيزې څانګې شننې لولئ.

څه باندې ۱۳ کاله وړاندې د امريکا په مشرۍ ناټو ځواکونو په افغانستان بريدونه وکړل او د طالبانو رژيم يې رانسکور کړ. د امريکا او ناټو ځواکونو دغه ماموريت د ۲۰۱۴ زېږدي کال په وروستيو ورځو کې، په رسمي توګه پای ته ورسول شو.

دا جګړه امريکايي او ناټو ځواکونو ته، هم له ځاني او هم له مالي پلوه درنه تمامه شوه او بالاخره دې ته اړ شول، چې د خپلو تلفاتو او لګښتونو کچه راټيټه کړي؛ خو په بل اړخ کې يې د دې جګړې موخې هم لا نه دي ترلاسه کړې او له همدې امله نه غواړي چې دا سيمه په بشپړ ډول پرېږدي، چې په دې توګه د دغې تپل شوې جګړې درنه بيه لاهم افغانان ورکوي.

دا چې امريکايانو څرنګه پر افغانستان يرغل وکړ؟ په دې خونړۍ جګړه کې يې موخې څه وې او بالاخره يې پايلې په کوم لور روانې دي؟ هغه موضوعات دي، چې دلته يې د شننو تفصيل لولئ:

## پایان جنگ جهانی کوچک!




روز یکشنبه ۲۸ دسامبر ماموریت جنگی ناتو در افغانستان رسما پایان پذیرفت. مراسم پایان ماموریتی که توسط بزرگترین نیروی نظامی جهان به عزم ریشه‌کن کردن تروریسم به راه افتاده بود، از ترس حملات طالبان بصورت مخفیانه و دریک سالون ورزشی و بدون اعلام قبلی برگزار گردید.

جالب است که سخنرانی جنرال جان کمپبل نیز به دلایل امنیتی بطور مسقیم پخش نشد و اوباما نیز پیام خود به این مناسبت را، از طریق تویتر به دست نشر سپرد.

رئیس جمهور اوباما ضمن اعلام پایان این ماموریت گفت که "جنگ افغانستان مسولانه به پایان یافت". از جانب دیگر جنرال کمپبل فرمانده نیروهای خارجی در افغانستان "پیشرفت‌های بدست آمده" در سیزده سال گذشته را قابل قدر دانست و افزود که «ما مردم افغانستان را از تاریکی و ناامیدی بیرون آوردیم و به آنها امید به آینده بخشیدیم». کمپبل در تقدیر از سربازان خارجی که در طول سیزده سال در افغانستان جنگیدند گفت که «آنها افغانستان را قوی‌تر و کشورهای ما را امن‌تر کردند».

ینس اشتولتنبرگ دبیر کل ناتو مدعی شد که «تروریست‌ها دیگر در افغانستان جایی امن برای فرار و مخفی شدن نمی‌یابند و برای میلیون‌ها شهروند این کشور پایه‌های آینده‌ای بهتر ریخته شده است». اگر این ادعا درست باشد پس باید از وی پرسید که شما چرا از ترس حملات طالبان حتی در داخل پایگاه خود مراسم پایان ماموریت را بصورت مخفیانه برگزار کردید؟!

## آیا نیروهای خارجی موفق شدند؟

سیزده سال قبل نیروهای آیساف تحت شعار کمک و همکاری به افغانستان پا گذاشتند  بعد از آن نوبت به نیروهای ناتو رسید که مستقیما به افغانستان وارد شوند. ماموریت افغانستان نخستین ماموریت ناتو در خارج از اروپا بود.

این ماموریت برای ناتو دارای ویژگی خاصی بود. پیمان ناتو بعد از جنگ جهانی دوم برای مقابله با نفوذ اتحاد شوروی در برابر پیمان وارسا بمیان آمد. نیروهای این پیمان برای جنگ میان کشورها که رویارویی در جبهات ثابت صورت می‌گیرد، آموزش دیده بودند؛ اما در افغانستان آنها با جنگ چریکی مواجه شدند. چریک‌هایی که قبلا جنگ با نیروهای نظامی مسلح به جنگ افزارهای برتر از خود را در جنگ با سپاه سرخ تجربه کرده بودند، تاکتیک شان جنگ و گریز بود. یکی از عواملی که توانست ضعف تسلیحاتی چریک‌ها را در برابر نیروهای ناتو جبران نماید، قدرت تحرک آنان در کوهستان‌ها در برابر سربازان گرانبار خارجی بود.

هرچند خارجی‌ها ادعای پیروزی در جنگ افغانستان را دارند، اما این جنگ همچنان ادامه دارد و امروز طالبان قوی‌تر از زمانی اند که نیروهای خارجی به عزم شکست دادن آنان به افغانستان آمدند. تولید مواد مخدر هم در مقایسه با سال ۲۰۰۱ به مراتب افزایش یافته است.

## جنگ خونین و بی‌حاصل:

در طول این جنگ و زمانی جنگ برای ریشه‌کن کردن طالبان در اوج خود بود، تا ۱۳۰ هزار سرباز از ۵۰ کشور در افغانستان حضور داشت. تمام کشورهایی که در دوران جهاد علیه تجاوز اتحاد شوروی به افغانستان کمک کرده بودند، در این جنگ علیه طالبان شرکت کردند. جنگ افغانستان را می‌توان یک جنگ جهانی در مقیاسی کوچک نامید.

در این جنگ یک تریلیون دالر هزینه شد و بر بنیاد آمارهای رسمی از جانب منابع خارجی، ۳۴۸۵ سرباز خارجی جان خود را از دست دادند و هزاران تن دیگر نیز مجروح و معلول شدند. آمار دقیق از کشته‌های افغان در دست نیست اما تعداد تلفات انسانی این جنگ برای افغانستان از دوصد هزار نفر بیشتر است.

قرار است ماموریت جنگی ناتو جای خود را به ماموریتی با عنوان حمایت قاطع بدهد که هدفش دادن آموزش و مشورت دهی به ۳۵۰ هزار تن از نظامیان افغان است. قرار است در این ماموریت ۱۲۵۰۰ سرباز از ۴۰ کشور شرکت داشته باشند.

ظاهرا طولانی ترین جنگ در تاریخ امریکا برای این کشور به پایان رسید، اما برای مردم افغانستان این جنگ همچنان ادامه دارد. سوال اینست که اگر واقعا در پایان سال ۲۰۱۶ تمام نیروهای خارجی افغانستان را ترک کنند، طالبان که در سیزده سال در برابر حضور نظامی خارجی مقاومت کردند، دست از جنگ برخواهند داشت؟

## طالبان باید تصمیم بگیرند:

می‌پذیریم که مانند گذشته یک بار دیگر ابرقدرتی در رسیدن به اهداف خود در افغانستان شکست خورد، اما اگر این ابرقدرت شکنی نتواند ملت ما را به صلح وزندگی بهتر برساند و ما همچنان درگیر جنگ باقی بمانیم، از این پیروزی افتخاری بدست نخواهد آمد.

به نظر می‌رسد که پشت پرده جریاناتی در حال شکل گرفتن است؛ اعلام این مسئله از جانب امریکا که دیگر ملامحمد عمر رهبر طالبان هدف آنها نیست و اگر طالبان منافع امریکا را تهدید نکنند، دشمن تلقی نخواهند شد، چراغ سبز به طالبان است تا برای مذاکرات صلح آماده شوند. هرچند امضای قرارداد امنیتی دولت جدید با امریکا از جانب طالبان به معنای دوام جنگ تلقی شد، اما اکنون به نظر می‌رسد که این قرارداد حیثیتی بالاتر از توافقنامه‌های "ژنو" که زمینه را برای خروج آبرومندانهٔ اتحادشوروی سابق از افغانستان آماده ساخت، ندارد و طالبان به این باور اند که امضای این پیمان وسیله‌ای برای پنهان کردن شکست امریکا در افغانستان است.

طالبان مجبور خواهند بود تا خود را برای پایان سال ۲۰۱۶ و خروج کامل نیروهای خارجی از کشور آماده سازند. خروج نیروهای خارجی و پایان اشغال افغانستان، انگیزهٔ جنگ را از جنگجویان خواهد گرفت و کمک‌های داخلی و خارجی به پایان خواهد رسید.

بنابراین طالبان هم مجبور اند تا فکری برای آینده بکنند و برای پیوستن به پروسهٔ صلح تصمیم بگیرند. هرچند طالبان در میدان جنگ همچنان سرسختانه به نبرد ادامه می‌دهند اما در عرصهٔ دیپلوماسی نیز فعال اند. شاید بزودی آنها به بازشدن دفتر قطر بدون عنوان و بیرق امارت اسلامی راضی شوند و مذاکرات با امریکا را آغاز کنند.

تضمین بین‌المللی برای خروج نیروهای خارجی از افغانستان در پایان سال ۲۰۱۶، راه را برای مذاکره میان طالبان و دولت در کابل باز خواهد کرد و امید است که از این راه قدم‌های نخستین برای رسیدن به صلح برداشته شود.

# په افغانستان کې د امریکا جګړه (۲۰۰۱-۲۰۱۴)



## پر افغانستان د امریکا د برید شالید

پر افغانستان د شورویانو د یرغل پر مهال، افغان ولس او امریکا د ګډ دښمن له کبله یو بل ته نږدې شول او امریکا د شورویانو پرضد پاڅېدلو جهادي خوځښتونو سره مرستې کولې. د شورویانو له وتلو سره د امریکایانو پاملرنه له دې سیمې څخه د ختیزې اروپا په لور شوه، چېرې چې د شوروي اتحاد د ړنګېدو له کبله نه یوازې دا چې د برلین دېوال ونړېد، بلکې ډېر نور هېوادونه هم خپلواک شول. خو په بل اړخ کې د شورویانو له وتلو سره په افغانستان کې د کورنۍ جګړې لمبې اوچتې شوې، چې له درېو کلونو وروسته یې په طبیعي توګه په یوه توند غبرګون کې له کندهاره د طالبانو تحریک راپورته کړ. کله چې د طالبانو اسلامي امارت جوړ شو، نو ځینې عربان د اسامه بن لادن او د ده د ملګرو په شمول په افغانستان کې مېشت وو، چې له طالبانو څخه وړاندې د استاد رباني حکومت پناه ورکړې وه.

په ۱۹۹۸ کال کې د طالبانو او د امریکا ترمنځ او بیا د طالبانو او سعودي ترمنځ د اسامه پر سر شخړې پیدا شوې، چې له کبله یې څو ځله د امریکایانو له خوا پر افغانستان توغندیز بریدونه هم وشول؛ خو وروسته، چې په امریکا کې د ۱۱ سپتامبر بریدونه وشول، یو ځل بیا د اسامه پر سر شخړې زور واخېست او امریکایانو په همدې پلمه پر افغانستان یرغل وکړ.

کله چې پر امریکا د سپټامبر د یولسمې نېټې بریدونه وشول، نو د امریکا د هغه مهال ولسمشر "بش" طالبانو ته د ۲۰۰۱ کال د سپټامبر په ۲۰مه لاندې وړاندیزونه وکړل:

- طالبان دې امریکا ته د القاعدې ټول غړي وسپاري
- له طالبانو سره چې څومره بهرنیان بندیان دي، خوشې یې دې کړي[1]
- طالبان دې ژر تر ژره د وسله والو جنګیالیو د روزنې مرکزونه وتړي
- ټول "ترهګر" او د دوی ملاتړي باید مناسبو چارواکو ته وسپاري
- امریکا ته باید د "ترهګرو" د ټرېنېنګ مرکزونو ته لاره ورکړي، څو دوی هلته خپل تحقیقات وکړي[2]

طالبانو سملاسي د سپټامبر پر ۲۱مې دا وړاندیزونه رد کړل او د دلیل په دود یې امریکا ته وویل، چې د سپټامبر د یولسمې په پېښه کې د اسامه د ښکېلتیا هېڅ ډول ثبوت نشته دی؛ ځکه نو دوی نه شي کولی، چې اسامه امریکا ته وسپاري.

وروسته بیا د اکتوبر پر څلورمه طالبانو امریکا ته وړاندیز وکړ، چې دوی چمتو دي، څو اسامه پاکستان ته وسپاري او هلته د اسلامي شریعت تر چتر لاندې په یوه نړیواله محکمه کې پرېکړه وشي؛ خو دا وړاندیز د مشرف له خوا رد کړای شو[3].

د ۲۰۰۱ کال د اکتوبر پر ۷مه طالبانو یو ځل بیا وړاندیز وکړ، چې دوی چمتو دي په افغانستان کې دننه په یوه محکمه کې پر اسامه پرېکړه وکړي[4]... خو په همدې ورځ امریکایانو بیا د طالبانو دا وړاندیز د افغانستان پر خاوره په هوایي بریدونو بدرګه کړ... د اکتوبر پر ۱۴مه طالبانو یو ځل بیا بل وړاندیز وکړ، چې که امریکا دوی ته ثبوتونه وړاندې کړي،

---

[1] هغو لسو امریکایانو ته اشاره ده، چې هغه مهال له طالبانو سره بندیان وو.

[2] "Transcript of President Bush's address – CNN". CNN. 21 September 2001. Retrieved 27 March 2011.

[3] دا وړاندیز په پیل کې د پاکستان د جماعت اسلامي ګوند مشر قاضي حسین احمد وکړ، چې ملا محمد عمر ومانه؛ خو د مشرف له خوا بیا دا ډول وړاندیز رد کړای شو، ولولئ:

Patrick Bishop, Pakistan blocks bin Laden trial, guardian 04th oct 2001, see online: <
http://www.telegraph.co.uk/news/worldnews/asia/afghanistan/1358464/Pakistan-blocks-bin-Laden-trial.html>

[4] Taliban 'will try Bin Laden if US provides evidence', guardian, 5 october 2001, see online: <
http://www.theguardian.com/world/2001/oct/05/afghanistan.terrorism>

دوی حتی دې ته هم چمتو دي، چې اسامه کوم بل دریم هېواد ته وسپاري[5]. خو د امریکا ولسمشر دا ټول وړاندیزونه رد کړل او ویې ویل، چې که طالبان اسامه بن لادن امریکا ته ونه سپاري، نو له طالبانو وخت تېرېدونکی دی. په دې توګه د طالبانو او امریکا ترمنځ د خبرو اترو ټولې دروازې بندې شوې او امریکایانو پر افغانستان یرغل وکړ.

## په نړیوالو قوانینو کې د امریکا د یرغل حیثیت:

د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له خوا د سپتامبر د ۱۱مې پر پېښه دوه غبرګونونه د ۱۳٦۸ او د ۱۳۷۳ قراردادونو په بڼه کې راڅرګند شول. په دغو دواړو قراردادونو کې یوه قرارداد هم پر افغانستان د یرغل اجازه نه ورکوله او نه هم دغو قراردادونو کومه تعرضي ژبه درلوده؛ بلکې په عمومي توګه یې یوازې په اصطلاح "ترهګریزې پېښې" او "ترهګر" غندلي وو.

وروسته بیا په یوه بل ۱۳۸٦ قرارداد کې د ایساف ځواکونو رامنځته کېدل هم شامل وو، چې دا به په کابل او شاوخوا سیمو کې د امنیت او سولې لپاره میشت وي، خو دا قرارداد بیا د ۲۰۰۱ کال دسامبر پر ۲۰مه شوی و او پر افغانستان د امریکایي یرغل څو اونۍ تېرې شوې وې.[6]

په نړیوالو قوانینو کې هم دا یو منل شوی اصل دی، چې هر فرد د خپلې کړنې مسؤول دی، چې د اسلام مقدس دین هم همدا رابښيي. د ملګرو ملتونو د نړیوال قانون د ۱۴مې مادې له مخې که یو خوځښت یا ارګان چې په کوم هېواد کې دننه وي او یا د یوه هېواد تر ولکې لاندې سیمو کې کومه کړنه ترسره کوي، دا به د دولت د کړنو مترادف نه وي.

دا چې د ستامبر په پېښه کې نه کوم افغان شامل و؛ نه امریکایانو د هغو کسانو په اړه کوم جامع ثبوتونه وړاندې کړای شول، چې د دوی پر اند د ستامبر په پیښو کې ښکېل وو، ان تر ننه پورې هغه ثبوتونه چې کولن پاول یې ژمنه کړې وه، خپاره نه شول؛ نو امریکا څرنګه پر یوه داسې هېواد برید وکړ، چې دې ته چمتو و، چې پر اسامه د شواهدو د وړاندې کولو په صورت کې، نه یوازې دا چې په خپل هېواد کې بلکې په کوم بل دریېم هېواد کې هم د هغه د محاکمې لپاره تیار و؟

---

[5] 'Bush rejects Taliban offer to hand Bin Laden over, guardian, 14th oct 2001, see online: < http://www.theguardian.com/world/2001/oct/14/afghanistan.terrorism5>

[6] امریکایانو پر افغانستان لومړی برید د ۲۰۰۱ کال د اکتوبر پر ۷مه کړی و.

د دې ترځنګ د ملګرو ملتونو د قانون په ۳۳مه ماده کې راغلي، چې د قضيو لوري بايد تر ټولو لومړی د قضيې حل د خبرو اترو، پلټنو، د درېيم لوري په مرسته، په محکمه کې... او د نورو لارو پر مټ ولټوي، نه د زور له لارې. خو امريکا په بل اړخ کې د ۲۰۰۱ کال د ۱۱ سپتامبره راښيولې تر ۱۵ اکتوبر پورې د خبرو اترو لارې له بندو دروازو سره مخ کړې او يوازې يې د زور خبره کوله.

همدا راز امريکايانو د ملګرو ملتونو د ۵۱ مادې له مخې، چې يوه هېواد ته د دفاع حق ورکوي، پر افغانستان يرغل وکړ. دا چې په دې بريدونو کې نه کوم افغان ښکېل و او نه د طالبانو اسلامي امارت، بلکې د اسامه د سپارلو په اړه طالبانو يوازې د شواهدو په اړه ټينګار کاوه، دا په هېڅ ډول هم د دې خبرې معنا نه لري، چې امريکا د هغه مهال د افغان دولت له خوا تر ګواښ لاندې وه.

که څه هم امريکا مستقيماً د طالبانو تر ګواښ لاندې نه وه او نه هم طالبانو پر امريکا کوم بريد ترسره کړی و؛ خو له دغو ټولو سره سره امريکا د غچ اخېستلو په دود، د ملګرو ملتونو د قانون له ماتولو سره د بې ګناه افغانانو د وينو پر بهولو پيل وکړ.

## د افغانستان د جګړې موخې او پايلې:

ظاهراً پر افغانستان د امريکايي يرغل تر شا د اسامه بن لادن قضيه وه او همدا راز په دې جګړه کې د امريکايانو نورې موخې، د طالبانو د اسلامي امارت ړنګول، بلکې خپله د طالبانو ختمول[7]، د افغان اردو جوړونه[8] او دغه راز د طالبانو د اسلامي امارت پرځای د يوه دېموکراتيک نظام رامنځته کول وو، چې هېواد ته سوله او ثبات راوړي.

که چېرې امريکا ته د اسامه ورسپارل له طالبانو څخه د امريکا يوازېنۍ تقاضا وه؛ نو په کار وه، چې د هغه له وژل کېدو سره امريکا نور له دې سيمې وتلې وای؛ خو خبره هومره هم ساده نه ده، بلکې امريکايان دلته نورې ډېرې پټې او ښکاره ګټې لري، البته په يوه توپير سره، چې دوی لا پر دې نه دي توانېدلي چې په کافي توګه خپلې څرګندې موخې خوندي يا ترلاسه کړي.

[7]په دې اړه هم پخواني ولسمشر ښاغلي حامد کرزي څرګندونې وکړې، چې د طالبانو د امارت له ړنګيدلو وروسته ده هڅه وکړه څو له طالبانوسره خبرې اترې وکړي؛ خو د امريکايانو د مخالفت له کبله ده داسې ونه شوای کړای.

[8]د ملګرو ملتونو د امنيتي شورا د ۱۳۸۶ قرارداد له مخې ايساف ځواکونو ته په کابل کې د امنيت ساتلو وظيفه ورکړای شوه، ترڅنګ يې دا وظيفه هم ورکړای شوه، څو افغان اردو وروزي.

په دغو څرګندو موخو کې د طالبانو او القاعدې ختمول وو، چې له یوې خوا طالبان ورځ تر بلې پیاوړي کېږي او امریکایان ورسره ان له ۲۰۱۰ کال راهیسې په خبرو اترو مصروف دي او له بلې خوا القاعده شبکه هم د پخوا په څېر خپل فعالیت لري، بلکې د دوی انشعابي ډلې "اسلامي دولت" په عراق او سوریه کې تر پخوانیو ډلو زیاته خونړۍ جګړه پیل کړې ده.

د ځینې شنونکو په اند د دوی نورې موخې د چین، ایران او روسیې حصارول و، چې په دې موخو کې هم تر ډېره نه دي بریالي شوي او دوی دلته د منځنۍ اسیا بډایه منابعو راوستلي وو؛ خو د مغرورانه پالیسۍ له امله یې دا منابع یې هم نه دي ترلاسه کړي.

اوس چې د امریکا پر جګړې ۱۳ کلونه تېرېږي، د امریکا د دفاع وزارت د شمېرو له مخې، یوازې ۲۳۸٦ امریکایي سرتېري په دې جګړه کې وژل شوي او لسګونه زره نور ټپیان شوي او د امریکا لخوا پرې تقریباً یو تریلیون ډالره مصارف هم راغلي دي[9]؛ خو نه د دوی په اصطلاح "تروریزم" ختم شو، نه طالبان! نه یې هم افغانستان ته سوله راوړه او نه یې هم د یوه باثباته نظام بنسټ کېښودلای شوی؛ بلکې دلته پر دې نظام د نړۍ تر ټولو د فاسد هېواد نښان لګېدلی[10]، په مخدره موادو کې د نړۍ ۹۰ سلنه تقاضا پوره کوي[11]، او ورځ تر بلې پکې امنیت او ثبات خپل ځای ناامنیو او بې ثباتۍ ته پرېږدي[12].

په دې جګړه کې لسګونه زره افغانان شهیدان شول. که څه هم د نړیوالو ځواکونو په بریدونو او بمباریو کې د ملکي وګړو د تلفاتو شمېرل سخت برېښي؛ خو ترڅنګ یې دا چې د دغو ملکي تلفاتو کچه معلومول ولې سخت دي؟ خپله د یوه

---

[9] Geoff Dyer and Chloe Sorvino, $1tn Cost of longest US war hastens retreat from military intervention, financial times, 15 dec 2014, see online: < http://www.cnbc.com/id/102267930>

[10] د لا معلوماتو لپاره ولولئ، د ټرانسپیرینسي انترنیشنل کلني راپورونه، البته سږکال (۲۰۱۴) افغانستان په فساد کې څلورم نمبر راغی.
http://www.transparency.org/country#AFG

[11] May Jeong, Afghan opium crop set for record high, theguardian 12 Nov 2014, see it online:
http://www.theguardian.com/world/2014/nov/12/afghan-opium-crop-record-high-united-nations

[12] د ملګرو ملتونو د نوې څېړنې له مخې په افغانستان کې د ملکیانو وضعه ډېره وېروونکې ده، او په دې توګه ۲۰۱۴ کال د افغانانو لپاره تر ټولو خونړی کال و او د ملکیانو مرګ ژوبله هم پکې نږدې لسو زرو تنو ته رسېږي، وګورئ د ویسا ورځپاڼه، پرلپسې ۲۳۵۷ مه ګڼه، د ۲۰۱۴ کال د دسمبر ۲۱مه نېټه.

امريکايي جنرال له دې مشهورې جملې، چې: "تاسو پوهيږئ موږ مړي نه شمېرو[13]" څخه هم جوتيږي. که دوی د مړو شمېرو ته پاملرنه نه کوي، نو د ملکي کسانو تلفات هم ورته د اندېښنې وړ نه دي.

ستونزمنه ده، چې د امريکايانو د بريدونو له کبله د ملکي تلفاتو په اړه دقيق ارقام جوت شي، البته په دې اړه ډېرو مرکزونو او ادارو څېړنې کړې دي لکه: يوناما، هيومن رايټس واچ، د افغانستان د بشري حقونو کميسون، د يو شمېر پوهنتونو او نړيوالو ورځپاڼو ارقام او ... خو دا څېړنې هم کاملاً يو طرفه او په يوه څېړنيزه ليکنه کې يې راوړل له انصافه لرې برېښي.

پای

**ارتباط با ما:**

ايميل: info@csrskabul.com – csrskabul@gmail.com

وب سايت: www.csrskabul.com

شمارۀ تماس: 784089590 (93+)

[13] د امريکا جنرال ټامي فرانکس خبرې په دې ليکنه کې اقتباس شوې دي:
'Success in Afghan War Hard to Gage', The San Francisco Chronicle, 23 March 2002